مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲/۱۱/۱۲

# استبداد او اخلاقي ابتذال

ټول خبر دي، چې څه کسان په ټولنيزو رسنيو کې د نورو د تکفير او سپکاوي لپاره ګومارل شوي او له ښکنځلو روزي خوري.

دا سلګونه کسان دي ته ناست دي، چې د هر متفاوت تفکر خاوند - له هر راز استدلال پرته - وښکنځي، کافر يې وګڼي، د خور، مور، مېرمنې ناموسي ښکنځلې...

که يې نه منئ، د افغانانو ټولنيزو رسنيو (په تېره بيا ټويټر(X) او فيسبوک ته سر ورښکاره کړئ)

بداخلاقي تر تکفير او ښکنځلو محدوده نه ده، دروغ، افترا، تېرايستل، وژنې، تښتونې، د واکسانتې لپاره تشدد او ملي شتمنۍ لوټل د رواني بداخلاقۍ نور ډولونه دي.

روانه بداخلاقي په کومو توجيهاتو روا ګڼل کيږي:

١ - پلانيانو هم ښکنځلې، دروغ، وژنې، فساد... کول،

٢- د دنيا نور خلک هم په ټوليزو رسنيو کې ښکنځلې کوي،

٣- د بيان ازادي ده...

۴- په نننۍ نړۍ کې سياست يوازې د ګټو راخپلول دي، اخلاقو او عاطفې ته په کې ځای نه شته.

په کوم دين يا اخلاقي نظام کې د نورو بد کول ستا لپاره د بدکولو جواز ګڼل کيږي؟

دا توجيهات تر لومړۍ هغې لا پسې بدتره دي[عذر بدتر از گناه!] ، ځکه څرګندوي، چې روانه بداخلاقي ارادي، سيستماتيکه او مديريت شوې ده.

### اخلاق څه دي؟

### ساده تعريف:

د هغو بنسټونو (قواعد)، موازينو او لاربودونو ټولګه، چې د بنيادم چلندونه ټاکي او توجيه کوي يې.

اخلاق د هوښمند بشريت همزولي ارزښتونه دي. (انساني عواطف، باورونه (اديان) او قوانين) د اخلاقو بريدونه ټاکي.

کانټ ويل: اخلاق په خپل نفس کې مهم دي، اخلاقي کړنه له ځان پرته بل هدف نه لري. که غواړئ، پوه شئ کوم کار اخلاقي دی، هغه پر ټول بشريت عام کړئ، وګورئ چې ټول انسانان يې بد ګڼي که ښه؟ د ټولو په نظر (خير) دی که (شر)؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

**مثال:**

شپه ده، هېڅوک تاسو نهویني. په لاره کې یوه ډېره پرته ده. ستاسو په فکر کې درګرځي: کېدلای شي سبا سهار په دې ډېره کوم لاروی ولوېږي. پرېکړه کوئ او ډېره له لارې لرې کوئ. ان له دیني اړخه لا د ثواب کټلو تمه هم نه لرئ. دا یو بشپړ اخلاقي چلند دی.

د اخلاقو د داسې پېژاند له مخې موږ په چټکۍ د اخلاقي ابتذال یا بداخلاقۍ خواته سقوط کوو.

د ټولنیزو اخلاقو یوه ځانګړنه دا ده، چې په ډېره سختۍ بېرته راګرځي.

ښایي نن سبا دویم نسل د ټولنیزو رسنیو له بداخلاقۍ سره رالوېږي. دوی ګوري چې سیاستوال، دینپوه، لیکوال(!)، واکمن او ګڼ پېژندل شوي وګړي په ټولنیزو رسنیو کې ښکنځلې کوي، دروغ لیکي، جنایت توجیه کوي او خپل مخالف تورنوي. رالوېږدونکی نسل فکر کوي، چې ښکنځلې و دروغ د شهرت وسیله ده. ورو ورو دا چاره په یوه اخلاقي امر بدلېږي.

پورته توجیهات ولې ناسم دي؟

د نړۍ په ټولو فیلوسوفیکو، تاریخي، ادبي، اخلاقي او دیني متونو کې وګورئ، هېڅوک به تاسو ته د (بد) کار جواز د دې لپاره درنه کړي، چې تر تاسو مخکې نورو هم کاوه/ یا یې کوي.

اسلام پوهان دې په ټولو نصوصو کې یوځای دا ومومي، چې د خلکو خور، مور، ښځه و ناموس ښکنځل، وژل، وحشت، تشدد، سپکاوی او کړول ځکه روا دي، چې نورو هم کاوه یا یې کوي!

په افغاني دود، دستور، فرهنګي تاریخ او تاریخي فرهنګ کې یې موندلای شئ؟

اول خو د مهذبو او متمدنو ټولنو وګړي داسې نه کوي، که یې کوي هم دا ولې باید موږ ته اجازه راکړي، چې موږ یې هم وکړو؟

ایا زموږ اخلاق د نورو د اخلاقو غبرګون دی؟

د (بیان ازادي) نه پېژنو، ځکه یې د خپلو بداخلاقیو د توجیه لپاره کاروو.

په سیاست کې د اخلاقو او عاطفي تشه هم یو ناسمه دودکړای شوې کلیشه ده، د متمدنو ولسواکو ټولنو انسانان پر خپلو واکمنو زور راوړي، چې په خپله ټولنه کې دننه هر سیاست د انساني عواطفو او اخلاقو په چوکاټ کې ترسره کړي. دا قاعده - له بده مرغه- نړیواله او بشریت شموله نه ده، خو موږ افغانانو شته بداخلاقي تر ټولو ډېره د خپلې ټولنې د انسانانو د ځپلو لپاره روانه کړې ده.

پوهېږم، چې لیکنه اوږده شوه.

خو،

یوې پوښتنې ته ځواب ولیکئ، هرڅوک له خپله انده. د افغانانو په ټولنیزو رسنیو، سیاست، اداره او پر افغانانو د استبدادي واکمنۍ د دومره پراخې او هراړخیزې بداخلاقۍ لاملونه څه بولئ؟ څنګه یې توجیه کوئ؟

باور لرم، چې ګڼ شمېر به مو هماغه پورتني دلایل ولیکئ. خو د لیکلو پرمهال مو ګریوان ته سر کوز کړئ او اخلاقي فکر وکړئ، چې ایا دلیل مو سم دی؟

افغان سیاست ته د ملي ګټو ترڅنګ، انساني عاطفه، اخلاق او د خپلې ټولنې په وګړیو رحم بېرته راستنولای شو، که نه؟

که هو، څنګه؟

**ویښتیا، روښانتیا او بدلون**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ